

اروابناد میرزاعلم حمیدي

# اروابناد میرزاعلم حمیدي د پښتو د معاصر ادب هوډمن، تکړه لیکوال، ادیب، ژباړونکې او شاعر

## لیکوال : انجنیر عبدالقادر مسعود

زموږ په هیواد کې د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې د ادبي، فرهنګي او سیاسي حالاتو، د ټولنیز او انساني ژوند مختلفو پیښو او حوادثو زموږ پښتانه له پښتو ادب او هنر له رنګینې نړۍ څخه لرې ساتلې وو، خوبیا هم زموږ لیکوالو او شاعرانو د خپل استعداد او ریاضت په هڅو د ویاړنې، سربښندنې، میړانې او تل پاتې اتلولې تر څنګ دا ثابته کړې ده، چې دوی د افغانانو د حقوقو په دفاع کې ټینګه او نه پخلا کیدونکې مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې هر ډول ستونزې، کړاوونه، سترې ستومانې زغملې دي او دخپل قلم، علم او

لوړوخیالونو او فکرونو په وسیله یې  د ادب او هنر ډیوې روښانه او ځلانده ساتلې دي. که چیرې د پښتو ادب او هنر غوړیدلي او رنګین تاریخ ته په ځیر سره وکتل شي زموږ د لیکوالو، ادیبانو او شاعرانو فعاله ونډه په کې ډیره ځلنده، نه هیریدونکې، نه ورکیدونکې او تل پاتې ښکاري. دوی د خپلو نه ستړي کیدونکو او نه ورکیدونکو هلوځلو په پایله کښې ارزښتمن، ګټوراو علمي، ټولنیز، ادبي او فرهنګي آثارزموږ د ګډره ځپلي هیواد معاصرو او راتلونکو نسلونو ته د یوې علمي، ملي، ادبي او فرهنګي پانګې او شتمنې په توګه په میراث پریښې دي.همدا وجه ده چې د دوی په هلوځلو او  کارنامو زموږ معاصراو د هیواد راتلونکي نسلونه  به د تل لپاره پرې ویاړي. یو له دغو نومیالیواو نوښتګرو لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه  اروابناد میرزا علم حمیدي و.دی د پښتو ژبې پیژندل شوې، پر هیواد او  هیوادوالو مین لیکوال، غښتلې ژباړونکې ،  با احساسه ادیب او تکړه  شاعرو.

اروابناد میرزا علم حمیدي د عبدالحمید زوی و. دی پر(۱۳۲۰) لمریز کال د زمري میاشتې پرشلمه نیټه د خوست ولایت د اسماعیل خیلو قوم د (ډډوالو) په کلي کې زیږیدلی دی. ده خپلې لومړۍ زده کړې پر (۱۳۳۳ل) کال د اسماعیل خیلو او مندوزیوپه ښوونځي کې سرته رسولې دي، خو د لوړو زده کړو لپاره کورنۍ ستونزو ورسره یاري نه ده کړې.

ده د کار پر مهال د هغه وخت د عصري ډبل انټري سیستم د عمومي محاسبې او اداري اتلس میاشتني کورس په لشکرګاه کې لوستلی دی او  همدارنګه یې دوه ځلي په محاسبوي سیستم کې د نویو بدلونونو د زده کړې درې میاشتني کورسونه هم پای ته رسولي دي.

## رسمي، علمي او ټولنیزې چارې او دندې:

- پر(۱۳۳۵- ۱۳۴۲ ل) کال د هلمند په افغاني ساختماني دستګاه کې ((محاسب))

- پر (۱۳۴۲- ۱۳۵۲ ل) کال د خیبر رستورانټ (( د محاسبې مدیر))

- پر (۱۳۵۲- ۱۳۵۳ ل) کال د فواید عامې وزارت په ایټالوي (سوتی) کمپنۍ کې (د حسابي او اداري چارو آمر)

- پر (۱۳۵۴ – ۱۳۵۷ ل) کال د ایټالوي شخصي شرکت (دکلیمد شرکت) د (( د محاسبې مدیر))

- پر (۱۳۵۷ل) کال د ثور میاشتې تر (۱۳۵۷ل) کال د قوس تر میاشتې پورې د هوټلونو تصدۍ لوی سروال (( لوی ریس))

- پر (۱۳۵۷- ۱۳۵۹ل) کال په سوداګرۍ وزارت کې د کرهنې صنایعو د پراختیا مرکز (( د حسابي او اداري چارو آمر))

- پر (۱۳۶۰- ۱۳۶۲ل) کال په سوداګرۍ وزارت کې د لاسي صنایعو د پراختیا او صادراتو مرکز سروال ((ریس))

- پر (۱۳۶۲- ۱۳۶۸ ل) کال په سوداګرۍ وزارت کې د افغان نیچي په نوم د افغانستان- جاپان تجارتي شرکت سروال ((ریس))

- پر (۱۳۶۸ل) کال د جدي میاشتې تر (۱۳۶۸ل) کال د حوت میاشتې پورې په سوداګرۍ وزارت کې د کورنۍ سوداګرۍ سروال ((ریس))

- پر (۱۳۶۹- ۱۳۷۱ل) کال په سوداګرۍ وزارت کې د اقتصادي او ټولنیزو پر مختګونو د نندارتون سروال ((ریس))

حمیدي صاحب د تجارتي چارو د ودې، پرمختګ او پراختیا لپاره د هیواد نه بهر بیلا بیلو هیوادونو ته رسمي سفرونه کړي دي لکه : هندوستان، پاکستان، روسیه، آزربایجان، منګولیا، بلغاریا، چکوسلواکیا، هنګري، انګلستان، فرانسه، ختیځ او لویدیځ آلمان. او اوه ځلې یې جاپان ته سفر کړې دی.

## چاپ شوي او ژباړل شوي آثاریې په لاندې ډول دي:

- د سرې لار پر (۱۳۵۷) لمریز کال.

- ژوبڼ پر (۱۳۶۸ل) کال.

- د توکو خورجین پر (۱۳۷۰ل) کال.

- ورۍ ښنګه لیوه شو پر (۱۳۷۴ل) کال.

- بختوره پیشو پر (۱۳۷۴ل) کال.

- دوه مخي کسان پر (۱۳۷۵ل) کال.

- ژورې خبرې پر (۱۳۷۵ل) کال.

- د بریالیتوب لار پر (۱۳۷۸ل) کال.

- د زړې ادې کیسې پر (۱۳۸۰ل) کال.

- د کانو زړونه پر (۱۳۸۰ل) کال.

- د ملانصرالدين کچکول پر (۱۳۸۱ل) کال.

- چلباز پر (۱۳۸۲ل) کال.

- بد مرغه ټاپو پر (۱۳۸۲ل) کال.

- د بري راز پر (۱۳۸۳ل) کال.

- څو سياسي خبرې او د افغانستان بيا رغونه پر(۱۳۸۴ل) کال

حميدي صاحب له ډير پخوا څخه د ادب سره مينه لرله او په دې لاره کې يې ډيرې ليکنې د هيواد په بيلابيلومطبوعاتو، ورځپاڼو، جرايدو او مجلو کې خپرې شوې دي. او همدا رنګه د ده يو شمير سياسي ليکنې د ډېوال، ښکارندی، او کليوال په نومونو هم خپاره شوې دي، خو ده د پښتو ادبي نثر د ودې او پرمختګ لپاره خپلو ژباړو او ليکنو ته نوی خوند او نوی رنګ ورکړ او نوې لاره يې غوره کړه چې د ده هلې ځلې په دې برخه کې د قدر او ستاينې وړ دي.

او همداسې د حميدي صاحب يو شمير ليکنې، مقالې، شعرونه اولنډې کيسې تر اوسه نه دي چاپ شوي، هيله من يم چې د ده اولادونه د دغو ګټورو آثارو په چاپولو کې فعاله ونډه واخلي تر څو له يوې خوا لوستونکي او د ادب مينه وال ترينه ګټه واخلي او له بلې خوا د پښتو ژبې په غوړيدلي بڼ کې نوي ګلونه ور زيات شي.

ارواښاد علامه محمود طرزي ويلي دي: ((يو اولس په ژبه او ژبه په ادبياتو ژوندی پاتې کيږي.))

او همداسې خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي په خپله يوه ليکنه کې داسې کښلي دي : ((د يوه قام ژبه هغه وخت پرمختګ کولای شي چې اولادونه يې په خپله مورنی ژبه تعليم وکړي.))

د پورتنيو ليکنو پر استناد حميدي صاحب په خپلو ليکنو، ژباړل شويو آثارو او شعرونو کې د تولنې د کړاوونو او ستونزو په اړه، د پښتو ادب او ژبې، او د هيواد د پرمختګ، ودې او پراختيا په تړاو او دهيوادوالو دبرياليتوبونو او برياوو په لاره کې په خپلو آثارو کې اغيزمن، ګټور او با ارزښته اخلاقي او فکري لارښونې کړې دي، د ده مينه او هلې ځلې هغه څرګنده واقعيتونه دي، چې نه يوازې اوسني نسلونه، بلکې راتلونکي نسلونه به هم پرې ووياړي.

د حمیدي صاحب یو با ارزښته اثر (د بریالیتوب لار) نومیږي، چې په دې اثرکې هیوادوالو ته د ستونزو او کړاوونو د حل او بریالیتوبونو لارې چارې، د نړۍ د نومیالیو لیکوالو او پوهانو له نظره ګټورې او اغیزمنې لارښوونې کوي. دی په خپله سریزه کې داسې وایي :

((.... بشر همیشه کنجکاو او پلټونکی و او دی، ډیره مینه لري، چې د پخوانیو انسانانو له تیرو کړو وړو نه خبر شي، نو ځکه یې دخپلې هوشیارۍ او ژور فکر د کار اوعمل او د پرله پسې پلټنو له مخې د پټو رازونو په راسپړلو کې هڅې پیل کړې، سترتمدنونه یې رامنځ ته کړل، لوی ښارونه یې ودان کړل او ډیر ښکلي هنري آثار یې رامنځ ته کړل...))

او همداسې په بل ځای کې وایي:

(( .... دا ځکه چې د نا پوهۍ له امله د ښو او بدو، د رښتیا او درواغو، د دوستانو او دښمنانو او دا ډول ډیرو نورو خبرو ترمنځ توپیر نه شو کولای، لا تر اوسه هم هغو کسانو ته چې د ورور وژنې په اور کې مو لولپه کوي، خپلواکي او د خاورې بشپړتیا، ملي یوالي ته مو زیان رسوي، ملي او تاریخي ویاړونه مو وژني، د ځینو کسانو له خوا (د ملي خاین) په ځای د ملي اتل(!) نوم ورکول کیږي، ماهم دا کار په دې هیله تر سره کړ، چې ګوندې له یوې خوا لوستونکي او څیړونکي په تیره پښتنې خویندې او ورونه ګټه ورڅخه واخلي، د هوشیارۍ او لیرې لید سترګې یې لاپرې روښانه شي او له بلې خوا د پښتو ژبې په امیل کې یوه بله کوچنۍ مرغلره ورزیاته شي... ))

ښاغلی اکادیمیسن سلیمان لایق چې زموږ دهیواد یو نومیالی، وتلی لیکوال، مخکښ او نوښتګراو نامتو شاعر دی، په خپله یوه لیکنه کې د دې اثر په اړه داسې کښلي دي :

((.... د محترم میرزا علم حمیدي دغه کتاب چې د (بریالیتوب لاره) نومول شوی دی. د نړۍ د سترو پوهانو د خبرو او تجربو هغه ټولګه ده، چې مولف لکه د شاتو مچۍ د سلهاوو ګل بوټو له رنګونو او عطرونو څخه ذره ذره راچڼلې، راټوله کړې او د حقیقت پلټونکو او سرېټوب لیوالو لار وهونکو ته یې وړاندې کړې ده. دا کتاب هیڅ علمي څانګې ته ندی ځانګړی شوی او د هیڅ ځانګړي فن لارښونه په غاړه نه اخلي. مولف دغه کتاب د پښتنې ټولنې د عمومي بیدارۍ په هدف د وزرماتو وطندارانو د ډله ایز استعداد خوځولو، بیدارولو او روزلو ته وقف کړی دی... ))

د حمیدي صاحب، له آثارو نه معلومیږي چې ده له خپلې ژبې او اولس سره ریښتینې مینه پاللې ده او په ډیره روانه، ساده اوخوږه پښتو ژبه د عامو لوستونکیو له ذوق، مینې او علاقې سره برابر ډیر په زړه پوري، ګټور او ارزښتناک آثار ژباړلي دي.د حمیدي

صاحب د آثارو ځانګړنه له یوې خوا په دې که ده چې ده دخپل ژوند او د افغاني ټولنې د ژوند په اوږدو کې په خپل خپل وخت کې ډیر مهم او ضروري مسایل په پام کې نیولې دي او بیا یې لیکنې او ژباړنې کړې دي.او له بلې خوا ده خپل آثار په خپل شخصي لګښت چاپ او بیا یې د ادب او فرهنګ مینه والو ته په وړیا توګه ډالۍ کړې دي.

حمیدي صاحب د یو خپل ژباړل شوي کتاب چې د (بري راز ) نومیږي په سریزه کې داسې کښلي دي:

((....کله چې د مطالعې په لړ کې کوم کتاب د پښتو ژبې او پښتنو خویندو – ورونو په ګټه راته ښکاره شي سمدستي قلم ته لاس او داسې په بیړه یې په ژباړه پیل کوم لکه په سر مې چې څو ټولۍ پیریان وي او یا مې په دې هکله له خپل وجدان سره تړون کړې وي. له دې کبله په بل چا منت نه باروم بلکې غواړم له دې لارې د خپلې ګرانې مور شیدې حلالې او خپل زړه ته تسل ورکړم ځکه چې هر ملت په خپله ژبه پایي او دهر ملت چې ژبه کمزورې وي د هغه ملت مالومات او لاس ته راوړنې هم لږې وي او ورو ورو د پوپنا کیدو په لوري درومي...))

د پښتو ژبې په ادب، هنر، علم او نورو پوهنیزو برخو کې د بهرنیو آثارو ژباړه یو مهم ضرورت ګڼل کیږي او خپل اغیزمن او ارزښتناک نقش او رول لوبوي.په نړۍ کې ساینس او تکنالوژۍ هره ورځ په ډیره چټکۍ سره مخ ته ځي او نوې تجربې ترلاسه کوي. ژباړه د انسانانو تر منځ هغه وسیله ده چې هغوی له فکري پلوه سره نږدې کوي او په نړۍ کې له نویو ادبي او علمي خوځښتونو او لاسته راوړنو نه خبروي.د بهرنیو آثاروژباړه په پښتو ژبې او زموږ دآثارژباړه په بهرنیو ژبو زموږ هیوادوال او دنیاوال له ادبي، هنري، علمي او پوهنیزو پرمختګونود بهیرونو نه خبروي. په دې اساس زموږ د لیکوالو یو مهمه دنده دا هم ده چې د نورو ژبو آثار پښتو کړي او د پښتو ژبې آثار نورو ژبو ته وژباړل شي، تر څو چې موږ د نورو ژبو آثار ونه لولو او خپل آثار ور ونه ژباړو، پرمختګ نه شو کولای او په نړۍ کې مو څوک نه پیژني. خو په دې کې شک نه شته ژباړه آسان کار نه دی دا یو مسلکي او حرفوي کار دی. له نیکه مرغه زموږ نومیالي او پیاوړې لیکوال او ژباړونکې حمیدي صاحب په دې برخه کې د یو ځانګړي استعداد خاوند شخصیت و چې د خپلو هلوځلو په وسیله یې د پښتو ادب د بډاینې لپاره په زړه پوري، ګټور او خوندور آثار د انګریزي او فارسي ژبو نه په پښتو ژبې ژباړلې دي، چې دپښتو لرغونې او وياړلې ژبه یې پرې شتمنه کړې او لا درنه کړې ده.

ښاغلی زرین انځورچې زموږ د پښتو ژبې یو وتلی لیکوال، څیړونکی او تکړه شاعر دی په خپله یو لیکنه کې د حمیدي صاحب د یو ژباړل شوي اثر په اړه داسې کښلي دي :

((....د نومیالي اروابوه او تولنیز بوه کان مورګان (د بري راز) هغه نوی اثر دی چې ښاغلي حمیدي پښتو کړی او دا دی ستاسو په لاسونو کې دی. دغه اثر په ټوله نړۍ کې دومره مشهور دی چې ښايي ډېره لږه داسې بله ژبه به وي چې د ویونکو شمیر یې له څو ملیونو څخه واوړي او دغه اثر دې ونه لري، یوازې زموږ خوارو ، اټکل پنځوس ملیونه پښتنو ، لا تر اوسه پورې دغه اثر پر خپله ژبه نه شوای لوستلی. له نیکه مرغه ښاغلي حمیدي، موږ په دې برخه کې هم دنړۍ د نورو ژوندیو اولسونو او ژبو د سیالی جوګه کړو.

(د بري راز) داسې یو اثر دی چې هر پښتون ته یې لوستل لازم دي، دا نه یوازې چې په ځانګړي او شخصي ژوند کې او د ځانګړي ژوند د بریاوو لپاره ډېر ګټور دی، د دې په څنګ کې د ټولنیز ژوند د سنبالښت لپاره، د ټولنیزو بریاوو لپاره او په ټولنه کې د یو غوره رول د لوبولو لپاره ډېرې په زړه پورې لارښودنې لري. په حقیقت کې دغه اثر د کلونو کلونو سترېو کوونکو تجربو او ازموینو څېړنو یو اروایي او ټولنیز نچوړ دی چې موږ یې په څو پرله پسې ساعتونو کې لوستلی او دغه تجربې ځانته رالیږدولی شو...))

د حمیدي صاحب یو بل ګټور او خوندور اثر د (ژورې خبرې ) په نوم یادیږي. په دې اثر کې په لنډو او خوندورو جملو کې پوهانو او علماوو په خپلو پاکو او سپیڅلو ویناوو په خوږو الفاظو او افکارو کې د انساني او اخلاقي ژوند په اړه په ډېر عالي او جامعی ډول د استدلال او منطق پر بنسټ داسې اشارې کړې دي، چې په لوستلو یې د هر لوستونکي پر وجدان، فکر او احساساتو ژور اغیز شیندلی شي.

ښاغلی سرمحقق زلمی هیوادمل چې زموږ د هیواد یو نومیالی او مخکښ لیکوال او وتلې څېړونکې دی په خپله یو لیکنه کې د دې اثر په اړه داسې کښلې دي:

((....د خوښی ځای دی، چې زموږ زیارکښ مترجم او په پښتو مین لیکوال ښاغلي میرزا علم حمیدي د پښتو د علمي ذخیرې د زیاتولو په خاطر په ورستیو کلونو کې ښایسته زیاتې ترجمې او خپلې لیکنې او ټولونې خپرې کړي. د همدغه سلیم ذوق او پښتني مینې په دوام یې دا دی اوس د (ژورې خبرې) دا حاضر کتاب آماده کړې دی. د دې کتاب شیګڼه دا ده چې د شرقي او غربي فرهنګونو دواړو پورې مربوطو پوهانو، علماوو او مفکرینو، لنډې څو ژورې ویناوې یې پکې راټولی کړیدي او دغه ښکلې مجموعه یې ترې په دې نیامت جوړه کړې ده، چې د پښتنو په اخلاقي او فکري روزنه کې ترې ګټه واخیستل شي ...))

سره له دې چې حمیدي صاحب د پښتو ادبیاتو اکاډمیک لوست نه درلود، خو د پشتو ژبې، ادب، کلتور او فرهنګ سره یې ځانګړې مینه لرله او په دې لاره کې یې د خپل خوږ ژوند ډېر وخت وقف کړې و، او په مطبوعاتو کې یې لیکنې په بیلابیلو وختونو کې خپرې شوې

دي، او خپل ګټور آثار یې په ډېره روانه، ساده او خوږه ژبه لیکلي دي. ده د خپلو نورو لیکنو تر څنګ طنز او طنزي لیکنو ته هم ډېره مینه درلوده، همدا د ده مینه وه چې بې شمیره طنزي آثار یې له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته وژباړل د بېلګې په توګه د ده دا آثار د یادونې وړ دي لکه : دوه مخي کسان، د ټوکو خورجین، ژوبڼ، بختوره پیشو، وری څنګه لیوه شو او داسې نور...

ښاغلی عبدالواحد نظري چې یو تکړه لیکوال او وتلی طنزلیکونکی دی، په خپله یوه لیکنه کې د حمیدي صاحب د یو اثر په اړه چې (د زړې ادې کیسې) په نوم یادیږي داسې کښلي دي:

((.... د حمیدي صاحب په ټولو آثارو کې که ژباړه ده او یا د ده خپل لیکلي آثار، د ده زیږه او نیش داره ژبه، چې په عین سادګۍ کې ډېره خوږه ده له ورایه څرګندیږي. لکه د ده دزړې ادې کیسې که په ظاهره تاریخي او خیالي کیسې یې سره پیبلي دي ، خو هر وار چې کیسه تر یوې نقطې او ډډې پورې رسیږي او یا په بله مانا زړه ادې خوله وتړي، بیا نو ډډوال خوستی خپل د زیږې ژبې شربت او د ناباورۍ خواږه زهر ورپاشي، تر څو دا کیسې د خپل تاریخي ارزښت تر څنګ خپل هنري اوذوقي بعد او حلاوت هم تر لاسه کوي. لایق صاحب د ده د زړې ادې کیسو په سریزه کې لیکي : ( حمیدي صاحب غواړي د تاریخي پیشو هغه کړۍ چې دی یې د خپلو لیکنو لپاره د استدلالي پایو په توګه کاروي، د طنزونو په یو مرغلین مزې باندې وپیي او په دې توګه په هغه پاروونکیو بحثونو باندې د طنز سیورۍ خپور کړي، چې محتسب غوسه کولای شي.))

همدا راز هیوادمل صاحب هم د همدې کیسو په سر پاڼو کې لیکي:

(( زما په پوهه په دې کیسو کې ډېر درانه موضوعات یې په ساده ژبه په حکایتي انداز کې، چې د طنزونو مزاح مالګه هم لري، خلکو ته وړاندې کوي...))

د حمیدي صاحب یو بل په زړه پورې او خوندور ژباړل شوی اثر د (چلباز) په نوم یادیږي.

ښاغلي اکادیمیسن سلیمان لایق په خپله یوه لیکنه کې د دغې اثر په اړه داسې کښلي دي :

((د میرزاعلم حمیدي د (چلباز) نومې ژباړې خپریدل کومه چې د شلمې پیړۍ د مشهور ترکي طنز لیکونکي (عزیز نسین) په سکوندونکي قلم لیکل شوې ده، په داسې مناسب وخت لوستونکو ته وړاندې کیږي چې افغانستان د یوه ژور هر اړخیز بحران د اخلاقي طاعون په تبه کې سوځي. دا پښتو ته د نورو ژبو د ادبي آثارو د انتقال پر اقدام بر سیره، له وخت سره مطابق د موضوع د ټاکلو په برخه کې یو ابتکار دی. کله چې حمیدي صاحب

د خپل ياد شوي اقدام په باره کې زما سلا ته مراجعه وکړه ما د ده مفکوره تاييد کړه او دی مې وهڅاوه چې دغه کار په نورو ړومبی کړي او طنز ډوله داستانونو ته په خپلو ادبي هلو ځلو کې لومړي او په صدر کې ځای ورکړي...))

ټوکې د هرې ژبې فلکلوريکه، په زړه پورې او خوندوره برخه ده. په اولسي ادب کې د عوامو وګړو ږغ دی، چې ديوه نسل نه بل نسل ته ، د يوې سيمې نه بلې سيمې ته ليږدول کيږي، ويونکي او جوړونکي يې معلوم نه دي. ټوکې د اولسي نقد هغه هينداره ده، چې له يوې خوا په ټولنه کې خلک خندوي او له بلې خوا د ټولنيزو، اقتصادي، اخلاقي ناخوالو، ظلمونو، ستمونو او نورو بيلابيلو نيمګړتياوو په مقابل کې مبارزه کوي او ورپورې ملنډې وهي، خپله کرکه ورسره ښيي تر څو له ټولنيزژوند څخه يې لمن ټوله شي. په هغه ټولنه کې چې ظلم، تيری، ناروا وي او اولس ونه شي کولای خپل بر حق ږغ پورته کړي نو خامخا په داسې يو ټولنه کې د خلکو په منځ کې ټوکې ټکالي جوړيږي.

حميدي صاحب په خپل يو اثر کې چې (د ملانصرالدين کچکول) نوميږي په خپله يوه ليکنه کې داسې کښلي دي :

((....زموږ په ګران هيواد افغانستان کې د اولسي ادبياتو په ليکلي ډول راټولول او څيړل په (۱۳۱۶لمريز) کال کې د کابل ادبي انجمن له خوا پيل شوې دي او تر اوسه دوام لري چې په دې لړ کې ماهم د خپل کمزوري وس او توان په اندازه (۴۸۶) ټوکې د ليک پر سپڼسي وپيیلې او په ( ۱۳۷۰ل) کال کې مې (د ټوکو خورجين) له لارې خپلې قدرمنې ټولنې ته وړاندې کړي. دا ده څه نا څه لس کاله وروسته کټ مټ د هغه چا په څير چې په لوګرو پسې وړي ټولوي، بيا د خپلې نيمګړې هڅې په لړ کې لکه څنګه چې وايي : ( له نشت نه نيني هم ښې دي.) ايله بله په دې بريالی شوم چې د ملانصرالدين له خولې راوتلي او يا په هغه پورې ورتپلي؛ له بې شميره خوندورو خبرو څخه يوازې (۳۳۵) مرغلرې په دې هيله د ليک پر مرغلين مزی وپيیم چې ښايي په پښتو ادب کې د ملانصرالدين نيمګړې او تش نه ليکلی ځای پر ډک کړم... ))

حميدي صاحب ته خدای پاک داسې يو هنري، ادبي او علمي استعداد اوذکاوت ور په برخه کړې و، چې ده د خپلو هنري او ادبي هلو ځلو په وسيله د هنري نثرونو تر څنګ د پښتو ادبياتو په رنګين او غوړيدلي ډګر کې د شعر ويلو او ليکلو په برخه کې هم خپل قلم اوچت ساتلی و.

شاغلی نظيف تکل چې د پښتو ژبې يو وتلې ليکوال، تکړه شاعر دی په خپله يو ليکنه کې د حميدي صاحب د شعر او شاعرئ په اړه داسې وايي:

((.... د اروابناد حميدي صاحب شاعري په هماغه (۱۹۹۷زیږدیز) کال کې کله، چې هالند ته مهاجر شوی، پیل شوې ده او لومړی شعر یې هم یوه پرتلنه یا مقایسه ده، چې خدای ببنلي په (۰۸/۰۹/۱۹۹۷ز) کال لیکې دی، که څه هم داسې مقایسې زموږ اکثرو شاعرانو کله چې له خپل هیواد څخه بل هیواد ته مهاجر شوې یا په چکر تللي داسې مقایسې یې کړې دي. دخپل وطن انسان، د خپل وطن طبیعت، د خپل وطن اوبه خواړه او حتی د خپل وطن ونې پوټې یې هم د بل وطن له ورته شیانو سره مقایسه کړې دي. یا یې خپل ښه بللي یا دبل. حمیدي صاحب هم دغه مقایسه ډیره زړه راکښونکې کړې ده. دبیلګې په توګه د دې شعر یو څو بیتونه:

دلته پسرلی دی ښایسته میلې سیلونه دي

هلته میندې بورې، کړې ویرونه او غمونه دي

دلته خنداګانې، نڅا ګانې خوشالۍ ښکارې

هلته ژړاګانې، بې وسې او سره اورونه دي

***

دا ډیر اوږد شعر دی، چې دلته له هلته سره پرتله شوی دی.د هیواد ناوړه شرایط د هالند له هوساینو سره پرتله شوي دي.انسان یې د هغه ځای له انسان سره، چې ده خاپوړې ورسره کړې دي او د ژوند ډیره برخه یې په کې تیره کړې ده، پرتله کړې دی او بیا یې د خپل انسان په بې وسی د خپل شعر اوښکې تویې کړې دي. خو ماته د حمیدي صاحب شاعري له څو پلوو د ستاینې وړ ښکاري:

۱- دا چې د ده په شعر کې هیواد پالنه، انسان پالنه، ملي افغاني ناسیونالیزم، له جګړې کرکه، صداقت او مینه نږدې په هر بیت کې ځان راښکاره کوي.

۲- دا چې د ده شعر ډیر ساده، عام فهمه او بې تکلفه دی، چې زموږ د ټولنې هروګړي ته د پوهیدو وړ دی، بې له دې نه چې یو بل څوک یې ورته توضیح اوتفسیر کړي او یا په پخوانی اصطلاح (المعنا الشعر في بطن الشاعر) داسې نه دي او دا هغه دی، چې د ډیرو په شعر کې لا نشته.

۳- دا چې ده په خپل شعر کې هیڅ کله د خپل زړه خبره په خپل زړه کې د ننه نه ده پرینې ، هڅه یې کړې چې هغه وکړي ، ځکه چې دا د ډیرو افغانانو د زړونو خبرې وې او په دې کې بیا په دې پسې نه دی ګرځیدلی، چې د شعر قالب په پام کې ونیسي او د ده د زړه د خبرې خنډ شي .

زه په دې برخه کې د خپلې خبرې د زبات لپاره د هغه يو اوږد نظم يو څو بيتونه د بيلګې په ډول را اخلم دا نظم ولسمشر کرزي ته ويل شوی دی:

رسيدلی يې کرزيه لوړ مقام ته

د تاريخ عبرتونو امتحان ته

دا مقام نه دی، دا سم پل صراط دی

لاره وځي يا جنت ته يا نيران ته

پر بغل دې پروني لوټماران ګرځي

خدای دې خير کړي د ستا سر ته زموږ ځان ته

لږ چرت ووهه له تانه مخکې څوک وو

چې مختورې شول تاريخ او پاک سبحان ته

***

ترپايه ))

ما حميدي صاحب له ډير نږدې ښخه پيژندو، په رښتيا سره چې دی يودروند، با احساسه ، پاک او سپيڅلی انسان و. د نيکو اوصافواو عالي اخلاقوخاوند شخصيت و.د خپلو ملګرو او دوستانو سره صميمي، مهربان، رښتيني او خواخوږې و.

ښاغلی افضل ټکور چې يو وتلي او مخکښ شاعر، پيژندل شوی ليکوال دی او دحميدي صاحب ډيرنږدې دوست او ملګری و، د ده په اړه په خپله يوه ليکنه کې داسې وايي:

((.... کله چې د ارواښاد حميدي صاحب نوم اخلم، نو سمدلاسه مي ډيرې خبرې ډيرې ليکنې ډيرې ګرويږونې، خاطرې په ذهن کې تداعي شي. ډيرو ته مې فکر يوسې، ډيرو پيښو او ډيرو کيسو ته د غم او زغم اوښکې تويې کړم او دا په دې، چې زه فکر کوم په دې ناسته غونډه کې تر ټولو زيات، زه له حميدي صاحب سره نژدې پاتې شوې يم. له ډيرو اوږدو کلونو راهيسې زما له حميدي صاحب سره ناسته پاسته وه.هغه ما د يوه درونړ پښتون، د يوه صميمي انسان، د يوه سپيڅلي او منلي ليکوال، ژباړونکي، ليکونکي او شاعر په توګه پيژانده. هغه به چې ما هر وخت ليده او يا به مې د هغه دحال احوال پوښتنه کوله، نو هغه به هميشه بوخت و، د آثارو په ژباړلو د لنډو کيسو په ليکلو او د شعر په ويلو

سره يې ژوند کاوه. له ليکلو او ژباړلو سره يې مينه وه. زما په فکر په پښتنو کې به ډير داسې کم کسان پيدا شي، چې هغه دې په دې دومره لږ وخت کې د حميدي صاحب هومره آثار وليکي... ))

لنډه دا چې حميدي صاحب هغه پياوړی ليکوال، اديب او شاعر و چې د ده نوم او آثار به زموږ دادبياتو په تاريخ کې د تل لپاره ژوندی وي او زموږ خلک او په ځانګړي توګه زموږ د ادب مينه وال به د ده په نوم وياړي او د ده هلې ځلې او کارنامې به ستايي او دقدر په سترګه به ورته ګوري.شاعر وايي :

خلک وايي غم ښادي سره ورور خور دي

څه به ښه وای که دا ورور ورسره نه وای

خوشحال خان ختک وايي:

د خوشحال قدر که اوس په هيچا نه شته

پس له مرګه به يې ياد کا ډيرعالم

اروايي ښاده او ياد د يې تل ژوندی وي .

## په ډير درنښت او ادبي مينه : انجنيرعبدالقادرمسعود